سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۵/۱٤

# که حکمتیار د سولی د عالی شورا مشر شی

## بنای د سولی پروسه بریالۍ شی.

د ښاغلی حکمتیار او د هغه د اسلامی گوند د روغي جوړي په هکله د بیلا بیلو خواو نه ډول ډول تبصری او لیکنی وشوی او راز راز تحلیلونه وړاندی شول. چا د دولت سره د هغه یو ځای کیدل په هیواد کی د سرا سری سولی د راتلو او د یوی بی جګړی تولنی د جوړیدو په لار کی یو ستر او گټور گام وباله، چا ورته د شک په سترگه و کتل او ځینو هم د دولت سره د هغه را یو ځای کیدل او پخلا کیدل له دی کبله چی د ځینو ډلو او اشخاصو د موجوده موقف د پاره، چی ممکن په راتلونکی کی څه نقصان ورته ورسیږی د سولی د راتلو د پاره گټور کار نه دی بللی او هغه یی د جهاد د بریالیتوب نه وروسته د کورنیو جگړو عامل بللی دی.

زه دلته نه غواړم د هغو ډلو او کسانو په د لایلو باندی چی یا د حکمتیار راتگ ته د شک په سترگه گوری او یا یی د کورنیو جگړو عامل بولی و غږیږم. یواځی غواړم د هغو کسانو په استدلال باندی په مختصره توگه خبری وکړم چی د ښاغلی حکمتیار په مشری د حزب اسلامی را یو ځای کیدل د افغان دولت سره د سولی په گټه بللی دی. هغوی داسی د لایل وړاند کوی:

ـ د افغانستان روانه جگړه د افغانانو جگړه نه ده او له بیرون نه پر افغانانو د نورو د گټو د تامین د پاره د یوی نیابیتی جگړی په څیر را پیل شویده.

ـ دا جگړه څلویښت کلنه شوه، یو ابر قدرت د وخت د شوروی اتحاد په نوم مات شو او له افغانستان نه و شړل شو، خو پر ځای یی بل زبرځواک د (۴۵) نورو هیوادو په گډون را داخل او ددی ملک د اشغال بله بڼه را پیل شوه . (۱۶) کاله کیږی چی د املک د اور په لمبو کی سوځی خو د روانی جگړی گټونکی او بایلونکی لا نه دی معلوم. اوس د افغان دولت سره د حزب اسلامی را یوځای کیدل به اسانی سره په لنډ وخت کی دا حالت روښانه کولی شی چی ایا د امریکا په مشری دی بهرنیو ځواکونو دا وطن اشغال کړیدی او که په ربښتیا د دی د پاره دلته راغلی چی د بیا د پاره په دی وطن (افغانستان) کی د تروریزم مرکزونه جوړ نه شی او له دی مرکزونه نه پر دوی حملی و نه کړی؟

ـ په سوله کی د اسلامی حزب را شریک کیدل په روښانه توگه د امریکا متحده ایالاتو ته د دی امکان په لاس ور کوی چی په اسانی سره د تروریستانو حمایت کونکی هیوادونه په منطقه کی و پیژنی او که د دهشتگرو سره دامریکا دولت په پټه ملگر ی نه وی نو باید په دی هیوادونو زوره واچوی چی په خپله خاوره کی د ترهگرو مر کزونه له منځه یوسی او نه یواځی د منطقی بلکی د نړی امنیت له خطر نه وژغوری.

ـ که څه هم بهرنیان او په کور دننه د پښتون قام مخالفین په څرګنده توګه، دا خبره نه کوي چې طالبان ټول او یا په مطلق اکثریت کې پښتانه دي او همدا د طالبانو ډلې دي چې تروریستي اعمال سرته رسوي، نو معنی دا کیږي چې پښتانه تروریستان دي. او س چې ښاغلی حکمتیار او د هغه اسلامي حزب چې لویه برخه غړي پښتانه دي د سولې لاره و نیوله نور څوک په پښتنو باندې دا تور نه شي پورې کولی چې یواځې پښتانه تروریستان دي، بلکې دا به هرڅوک ومنې چې په تروریستي ډلو کې د هرې سیمې او قام و قبیل ته منسوب کسان وجود لري.

ـ د ښاغلي حکمتیار ټولې وروستي ویناوې او د رسنیو سره خبرې اترې دا په څرګنده توګه و ښاي چې، هغه کلکه اراده لري چې باید افغانان د یوه واحد ملت په توګه عمل وکړي، د ملي ګټو د تامین د پاره شریکې هل ځلې وشي، ټول افغانان په خپل لوی کور افغانستان کې د سولې په تغر سره را ټول شي او په یوه خوله د پردیو د هر ډول تسلط ختمیدو ته، لازم تدابیر ونیسي.

ـ د ښاغلي حکمتیار د ښه راغلاست د پاره د ګڼو غیر دولتي، سیاسي او مدني ټولنو ګډ درېځ دا و ښوله چې د څو تنو محدودو ځیرو او سیاسي جوړښتونو نه پرته په ټول هیواد کې د هغه خبره وزن لري او که د هیواد وطنپال ځواکونه یې تر شا ودریږي نو په هیواد کې به روانه تراژیدي ختمه شي.

اوس غواړم اصلي موضوع ته را و ګرځم او هغه داچې: « که حکمتیار د سولې د عالي شورا مشر شي، ښاي د سولې پروسه بریالی شي»

د دوه او یا څو مخالفو ډلو تر منځ د سولې او روغې جوړې خبرې هغه وخت ښه نتیجه ورکوي چې، د دواړو خواو تر منځ ، منځه ګړي هسې څوک وي چې دواړو خواو ته د اعتماد او باور وړ وي بې غرضه وي ، د حق پلوي وي، په روغه خوښ وي او تر ټولو مهمه داچې د اختلاف وړ موضاعاتو باندې خبروې او هغه یې ښه پیژندلی وي. کله چې ستونزې و پیژندل شي نو د هرې ستونزې د حل د پاره د لارو چارو میندنه ډیره اسانه کیږي، او حکمتیار زما په اند د اوږدو تجربو نه وروسته د بل هر چا نه هم د یوه مبارز جهادي مشر په حیث، هم د یوه مستدلل او با کیفته عالم او یوه شخص په صفت او هم د یوه ملي اعتبارنه د برخه من او صلاحیت لرونکی شخص په توګه د دې وړتیا لري چې په موجوده افغاني ټولنه کې د بل هر چا نه په مؤثره توګه دا ستره وظیفه سرته ورسوي.

د سولې د پروسې د پر مخ بیولو د پاره د منځه ګړي (جرګه مار) په توګه د هسې اشخاصو وجود ته اړتیا ده چې خپله په جګړه کې نه وي را ښکیل شوي. حکمتیار که څه هم د دولت سره د اوږدو کلونو د پاره په جګړه کې پاتې شویدی، خو داچې اوس یې ورسره سوله کړې په پخواني دریځ کې کلي تغیر راغلی او اوس د ملي ګټو د تامین په لاره کې هلو ځلو ته پوره اماده ګي لري، نو له دې کبله باید چې افغان دولت ور باندې پوره باور وکړي. همدارنګه په تیرو کلونو کې د هغه د ډلې او د طالبانو تر منځ کله ناکله په ځینو ځایونو کې وسله والې نښتې شویدي خو دا نښتې په هغه مقیاس کې نه راځي چې نن دې ورباندې د طالبانو د مشر تابه ډلې بې باوره شي، ځکه طالبانو ته دا ډیره ښه څرګنده ده چې حکمتیار یو منور او روشنفکر مذهبي شخصیت دی او هیڅکله د هسې لارې ملګرتیا نه کوي چې د اسلام اصولو ته پکې نقصان ور سیږي او یا دې د هیواد خپلواکي د سوال لاندې را ولي.

تر کومه ځایه چې معلومه ده ښاغلي حکمتیار په وطن باندې د روسانو د تجاوز او د جهاد په کلونو کې یو د ډیرو مشهورو، هوښیارو او مدبرو رهبرانو څخه و، چې نه یواځې په ټوله اسلامي نړۍ کې د شهرت خاوند و، بلکې په غربي نړۍ کې هم د خاص دریځ لرونکی و، خصوصاً هغه وخت چې په پاکستان کې د مجاهدینو په موقت حکومت

کی د خارجه چارو د وزیر په توګه و ټاکل شو او د نړۍ ډیرو هیودونو ته یی سفرونه وکړل او د دنیا د وخت د زعامتونو سره یی لیده کاته وشول.
لکه چی مخکی ورته اشاره وشوه طالبان آکثریت پښتانه ګڼل کیږی او دا هم بیخی څرګنده ده چی ددی ډلی د فعالیت سیمی هم په مجموع کی پښتنی سیمی دی او د جنګ منفی تاثیرات هم د پښتنو په مناطقو کی تر بل هر ځای نه زیات دی، او ښاغلی حکمتیار هم پښتون دی چی نه یواځی د هیواد په جنوب او د پښتنو په سیمه کی د ښه نفوذ خاوند دی بلکی د هیواد په شمال خصوصاً د خپلی استوګنی په سیمه او تر ټول په نارامه ولایت کندز کی به د سولی په راتللو کی په یقین سره غښ رول ولری. کله چی د هیواد په یوه داسی مهم ځای کی چی په تیرو کلونو کی د دولت او طالبانو د تر منځ د څو کرته لاس په لاس کیدو نه وروسته پکی سوله راشی، دا کار په حتمی توګه په نورو سیمو هم اثر پریباسی او طالب مشران به دی ته په اسانۍ سره و هڅول شی چی دسولی خبری نیغ په نیغه د افغان دولت سره پیل کړی.
وروستی دلیل چی که حکمتیار د سولی د عالی شورا مشر شی، ښای د سولی پروسه به بریالی شی دادی چی: حکمتیار به د خپلو زوریدلو وطنوالو په وړاندی د هغو خبرو عملی کیدو ته موقع په لاس راوړی چی د خپلی مبارزی په اوږدو او خصوصاً د سولی د پروسی سره د یوځای کیدو نه وروسته یی کړی دی. همدارنګه به ښاغلی حکمتیار د یوه مسؤل مشر په توګه د کابل د ښار په کومه ګوښه کی چپ پاتی نه شی او له دی با ارزښته، مهمی او ضروری غوښتنی (سولی) له لاری به د خپلو خلکو سره اړیکی ټینګی کړی او په دی برخه کی به خپل ملی رسالت په ښه توګه تر سره کړی.
تر ټولو مهمه نقطه ماته دا هم ښکاری چی یو خو په موجوده دولت کی د ښاغلی حکمتیار د پاره تردی بله ستره ، مهمه او با ارزښته وظیفه ( په هیواد کی د سولی راوستنه ) وجود نه لری او بل داچی په دی توګه به هم افغان دولت او هم د دی دولت مخالیفینو او هم افغان ملت ته دا روښانه شی چی ایا د امریکا دولت په افغانستان کی د سولی د را تللو سره موافقه لری او که نه؟ دا پوښتنه ځکه ځواب پیدا کوی چی که د حکمتیار سره د سولی د پروسی په بری کی امریکا ملګری شی نو پاکستانه ته به خپله وظیفه مشخصه کړی چی طالبان د ترهګرو نه بیل کړی او د سولی خبرو ته یی تشویق کاندی، تر څو د سیمی ټول قوتونه په متحده توګه د دی تفکیک نه وروست د تروریستانو په وړاندی منظمه او کاری مبارزه پیل کړی.
که ډاکتر محمد اشرف غنی غواړی چی د خپلی زمامدارۍ پاتی برخه د نورو بریاو سره هم ملګری کړی، نو د ښاغلی حکمتیار سره دی ژر تر ژره مشوره وکړی او هغه دی ته راضی کړی چی دا تر ټولو مهم پُست قبول کړی او د پیر صاحب د زوی سره یوځای دی د سولی د تامین د پاره په عملی کار پیل وکړی.
باید و وایم چی زه یواځی په دی ار مان یم چی په ګران وطن کی سراسری سوله د پوره خپلواکۍ سره یوځای تامین شی او ټول افغانان لکه د خویندو او ورونو په څیر یو د بل تر څنګ د هغه د آبادی د پاره کار وکړی. نه د چا د موقف سره او نه د چا د لوی کیدو یا وړوکی کیدوسره کار لرم، خو د دی کلک پلوی یم چی د هر چانه چی د خیر په کار کی څومره چی ممکنه وی ګټه واخستله شی، دا ښه او معقول کار دی، باید چی حتمی تر سره شی. ترڅو دا اوږده بد مرغی او تراژیدی پای ته ورسیږی. په درناوی. انجنیر کلیوال